


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!

# عبدالحفیظ « ملیار ـ ساپی »



د نشرنیټه : 4 جولای 2023 میلادی

# لنډۍ

د اروپا ګلان دې ډیر شي
د ننګرهار د نارنج ګل نه هېرومه
له تانه ځار ای شین لغمانه
د استا په یاد کې شين زړګی تل ګرځومه
ما د کنړ له سیند نه ځار کړې
چې شاه لیلا به په کې مخ وینځلی وینه
مین به خدای په ګلو موړ کړی
مالیاره ستا نیمګړی نیت مې ځوروینه
د وطن پېغلې ملالۍ دي
په ګرد جهان کې بې مثاله نجونې دینه
قلم رڼا قلم ډیوه ده
په تروږمۍ کې ژوند کول دې خاورې شینه
د افغانانو دې رب مل شي
د غلیمانو دسایس پرې ځي راځینه
ټکۍ دوه درې سرې ته بس دي
څو چې زیاتیږي هومره غم مو زیاتوینه
یوه دې بله هم په سې وي
حفیظ ملیاره ژوند وطن کې خوند لرینه

***

عبدالحفیظ « ملیار »

www.said-afghani.org - بازگشت به صفحه اصلی